# میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده مؤسسې د عمومي کتابتون څخه د کتې اخستنې کړنلاره

اول د مؤسسې له کتابتون څخه یوازې د مؤسسې اړوند استادان ، محصلین او اداري کارکوونکي استفاده کولاې شي .

دوهم د کتابتون څخه د ګټې اخستوونکو اشخاصو لپاره د کتابتون ځانګړی هویت کارت درلودل اړین دي .

دریم

په کتابتون کې دننه په زوره خبرې کول ، په خپل منځ کې مباحثه یا په تلیفون کې غږېدل منعه دي .

څلورم

په کتابتون کې دننه د هرې پوهنځی کتابونه او المارۍ مشخصې شوې دي ، هیڅوک حق نه لري چې د یوې پوهنځی کتابونه او نور علمې اثار د بلې پوهنځی د کتابونو او علمې اثارو سره ګډ کړي .

پنځم

كتابتون ته د داخليدو په وخت مو بايد ټول كتابونه ، اجناس او شخصي توكې بهر كيږدئ هيچا ته د يادو اجناسو د داخليدو اجازه نشته .

شپږم

ټول مراجعين مكلف دي چې د خوښې وړ موضوع تر پيدا كيدو وروسته د نورو محصلينو مزاحمت ونه كړي او د وخت خيال وساتې .

اووم نظافت د ایمان جُز دی هیله ده چې د کتابتون د پاکوالي پام وساتئ .

اتم د کتابتون د اجناسو لکه میز ، چوکۍ ، الماري او د کتابونو اړوند نورو توکو ساتلو ته پاملرنه وکړئ .

نهم

د اداري له کاروونکو سره د اداريې اصولو له مخې چلند وکړئ په خپل نوبت په نرمه لهجه یو له بل سره خبرېې وکړئ.

لسم

ټول مراجعین کولای شي چې د کتابتون د لا پرمختګ لپاره هر ډول وړاندیزونه او برنامې د کتابتون د مسؤلینو سره شریک کړي .

# د عمومي کتابتون د کتابونو څخه د ګټې اخستنې کړنلاره

اول

د هرې پوهنځی د کتابونو لپاره الماری ځانګړې شوې دي ، هیڅوک حق نه لري ، چې د یوې پوهنځی کتابونه د بلې پوهنځی له کتابونو سره ګډ کړي ، هرکتاب چې په کوم ډول ایښودل شوي وي ، د راخېستلو وروسته یې په خپل ځای په منظم ډول باید کیږدئ .

دوهم

کله چې محصل ته کتاب توزیع کیږي ، باید د کتابتون د هویت کارت له ځان سره ولري .

دريم

له سمستري او تدريسې کتابونو پرته يو کتاب يوه اونۍ وخت لري
د کتاب د ځنډولو په صورت کې بيا تر يوه سمستره پورې نوموړي
محصل ته کتاب نه ورکول کيږي .

څلورم

که کوم محصل په کتاب کې پرته د خپل نوم نه اضافې ليکل
وکړل ، يايې څيرې کړ ، نوموړي محصل مکلف دی چې
ياد کتاب نوي کتابتون ته وصول کړي .

پنځم

مونوګرافونه او نور علمي اثار چې په کتابتون کې یې موجودیت ډیر اړین بلل شوي ده ، هیڅوک نه شي کولای چې له ځان سره یې یوسې ، یواځې همدلته په کتابتون کې ترې ګټه اخستلای شي .

شپږم

هر څوک کولای شي چې کتابتون ته اسلامي ، اصلاحي ، ټولنیز او زموږ د ټولنې د فرهنګ مطابق کتابونه ډالۍ کړي .

اووم

که په کتابتون کې ستاسې د علاقې وړ کتابونه له کمښت سره مخ وې نو د مهربانۍ له مخې د کتابتون مسؤلینو ته یاد کتابونه د ټولو ځانګړونو سره ولیکئ ، تر څو د کتابتون اداره یې د اړوندو ادارو څخه غوښتنه وکړي .

اتم

ټول محصلین باید یاده کړنلاره په یاد ولري چې وروسته یې ناخبري عُذر نه بلل کیږی .